مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولي الله ملکزی
۲۰۲۱/۰۳/۲۰

# د مرادونو کاروان

د یو فیلسوف وینا ده (د هیلو په سمندر کې غوپه کیدل، د نا امیدی په ساحل کې له پاتې کیدو ښه ډیر غوره دي) ځکه چې هیله د ژوند کولو او نورو ته د ژوند ښئلو، ښکلی هنر دی. هیله د هرې هڅې تاداو او د هر باور د زیږون سرچینه ده. په زړه کې د مراد لرل، په خپل مخ باندی د موسکا شال غوړوي او د مقابل لوري د ډاډ لامل ګرځي. د رسول علیه السلام صحیح حدیث دی چې ( د الله په ذات ښه ګمان کول او له هغه ښه هیله لرل، ښه عبادت دی) نهیلو خلکو ته پکار ده چې لږ تر لږه د هغه افتاب پرست ګل په اندازه همت ولري چې د باران په ورځ هم هغې خوا ته ګوري چیرته چې لمر په وریځو کې پټ وي، مګر بیا یی هم د امید سترګې اسمان ته بوټې نیولې او هیله مند وي. په ژوند کې د ښو امیدونو ساتل؛ لکه په تورو تیارو کې د ځان سره د څراغ ګرځولو په څېر دی. هیله، نه خیال پلو دی او نه په ویښه د خوب لیدلو په مانا ده. موږ د سلیمان (ع) په زمانه کې نه اوسو چې دیوان او پیریان به د بلقیس تخت په اوږه او د سترګو په رپ کې له عدن ښه فلسطین ته را ورسوي. له همدی امله ځموږ هیلې باید د عقلانیت او امکان د چوکاټ دننه و اوسي. هیله د رڼا بځرکي او یو تخنونکی احساس دی چې د ستونزو او کواښونو په وړاندی، د صبر او مقاومت مورچل تود ساتي. هیله انسان له ترږمی، لټی او پښیمانی ښه را باسي او د عزم، دبدبې او د بري شاخص ورته په ګوته کوي. هیله د غم په شیبو کې تر ټولو ښه درمل، د بی کسی غوره علاج او د الله تعالی له سترو نعمتونو ښه یو نعمت دی.
ارواه پوهان پدی باور دي چې مایوسي د هیڅ درد، درمل ندی بلکې نا امیدی درد لازیاتوي، ټیونه نور ژوروي او اندیښنو ته لاره هواره وي. د دوئ په آند، د یوائیتوب او سوچونو د وهلو په مهال، په کار ده چې د ژوند په مثبتو اړخونو فکر وشي او له هغه چا مشوره واخیستل شي چې سر یې له پوهې او زړه یې له مینې ډک وي. د سترو او تاریخي شخصیتونو ژوند دی مطالعه کړي چې هغوئ هم زموږ په څیر انسانان وو، څرنګه دی مقام ته ورسیدل؟ همدا فکر د هیلې دروازې پرانیزي او په زړه کې د باور تخم کري. د هیلې په هکله د قرانکریم یو مبارک آیت دی چې ( قُلْ يَا عِبَادِيَ الَّذِينَ أَسْرَفُوا عَلَى أَنفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوا مِن رَّحْمَةِ اللَّـهِ – ای پیغمبره! ځما هغو بنده ګانو ته ووایه چې پخپلو ځانونو یې تیري کړیدی، د الله له رحمت ښه مه مایوسه کیږئ).
په ورځني ژوند کې په هر چا اعتبار کول او له هر چا ښه هیله لرل، هوښیارتیا نده. که یو دوست په ناپوهی کې ستا سره جفا وکړي نو ویی ښښه، خو که دویم ځل دی بیا دوکه کړي نو په هغه پوری زړه تړل او له هغه یا هغې ښه د نیکی هیلې تمه لرل، حماقت او ناپوهي ده. هیڅکله باید ټول امیدونونه په یو تن پوری ونه تړل شي تر څو تالا ترغی نه شي. لیوالتیا او هیله د هغې غوټی په شان ده چې تل یی د ګل کیدو تمه کیدای شي، خو باید په پام کې ولرو چې د وحشت او بی انصافی سیلۍ یې رژولی هم شي.
کله چې د حضرت یعقوب مشرانو زامنو د هغوئ ناسکه کشر ورور، حضرت یوسف په کوهي کې واچولو او بیا یې په مصریانو وپلورولو، نو پلار ته یی دروغ وویل چې هغه خو لیوه وخوړ، نو دغه سپین ږیری او په سترګو ړوند پیغمبر نهیلي او لاس تر زني نه شو، بلکی زامنو ته یی داسی وویل ( يَٰبَنِيَّ ٱذۡهَبُواْ فَتَحَسَّسُواْ مِن يُوسُفَ وَ أَخِيهِ وَ لَا تَاْيۡـَٔسُواْ مِن رَّوۡحِ ٱللَّهِ – ای زما زامنو لاړ شئ، یوسف او د هغه ورور ولټوئ او د الله له مهربانی ښه مه نا امیده کیږئ) هر څه ته په مثبت ډول کتل، د انسان په ذهن او زړه کې د امید ستني مزبوتوي. هغه کس چې د زړه له تل ښه د خپلې موخې او هیلې په لور ګامونه اخلي، له یوه ځانګړي احساس او شعور ښه خوند اخلي. بالمقابل، کوم


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیز بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په څیر و لولئ

خلک چې خپله نېکمرغي د نورو په بدمرغۍ کې لټوي او د نورو له خوښۍ ځوريږي، همدوئ تر ټولو بدمرغه او ذليل انسانان دي.
نلسن منډيلا وايي: ( زړه سواندي انسانان خو له پخوا راهيسې يو له بل سره د شفقت په کلکو رسيو تړل شويدي، څومره به ښه وي که د بشري ټولنې بې عاطفې خلک د ښو هيلو په مزي سره وتړل شي تر څو د غمونو او ستونزو بار سپک شي) هيله مند انسان تل فکر کوي چې ګيلاس نيم ډک دی، خو نهيلی کس همدغه ګيلاس نيم تش بولي. که يو سړی مال وبايلي نو يوه برخه به يې بيا هم پاتې وي، خو که هيله له لاسه ورکړي نو بيا يې هر څه په سيند لاهو شول.
هغه څوک چې په زړه کې ايمان او هيله نه لري، په حقيقت کې هغه د نړۍ تر ټولو مفلس او بې وزلی انسان دی. نن په دنيا کې د مترقي ژوند اساس په نيکو هيلو ولاړ دی، د جهان پرمختللي هيوادونه د ترقۍ لوړو مدارجو ته د مثبتو هيلو او هڅو په نتيجه کې رسيدلي دي. هغه ولسونه چې خلک يې نهيلي او مايوسه وي تل به خوار او زار، وروسته پاتې او نورو ته د درويزې لاسونه اوږده کړي وي. وينسټن چرچل وايی: (نهيلی انسان هر فرصت ته د ستونزی له زاويې ګوري، خو هيله مند انسان هره ستونزه يو نوی فرصت ګڼي).
په تيرو څلورو لسيزو کې زموږ هيواد څلور ځلې اشغال شو، دوه کرته سترو ځواکونو او دوه وارې د بدنيته ګاونډيانو لخوا. همدارنګه موږ په دې موده کې څلور غير متجانسه نظامونه وازمايل چې يو تک سور، بل پوخ شين، دريم پړکيدلی سپين او دا څلورم يې د جمهوريت معجون. له پيړيو راهيسې همدا باتې وهو چې موږ ننګيالي يو، توريالي يو او ټوپک زما قانون دی. خو فکر کوم چې دا يوه کليشه يي او سوليدلي شعار دی. نو که موږ رښتيا هم غواړو چې مټه ور او شمله ور شو؟ که غواړو چې خبره مو ميره، په ګيډه ماړه او د سيالانو سيال شو؟ او که غواړو چې د مرادونو کاروان مو منزل ته ورسي! نو راځئ چې د وينې په ځای مينې، د تعويذ په ځای تحقيق او د ټوپک په ځای قلم ته لاس کړو. کنه نو هندو سترې، خدای ناراضه. د مسکو د پرون ورځې د غونډې په اړه يو پخواني جهادي قومندان له ډير درده د فيسبوک په خپلې پاڼې کې کاږلي: جهادي مشران، ملايان او پيران خو د کعبې په سيوري که نه پخلا شول او نه يوه خوله. ګوندی که دا ځل د لينن کبير د قبر په څنګ کې يوه سلا شي. نا اميدي کفر دی.

## قدرمنو لوستونکو!

## زه له خپله اړخه د پنځلسمې هجري لمريزې پيړۍ د لمړي کال، د لمړۍ ورځې مبارکي درته وايم.

## ټولو ته دې بختوره وي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ